ورځپانه

شریعت

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ـ ٤٠مه ګڼه پرله پسې (٤٢٠) یکشنبه د١٤٢٢ هـ ق کال دربیع الاول (١٨)، د١٣٨٠ هـ ش کال دجوزا دمیاشتی (٣٠) د٢٠٠١ میلادی کال دجون (١٠)

الهی فرمان

« بېا مو له هغوی وروسته ، تاسی دځمکی واکمن وګرځولی ، نوګورو به چی څه کوني.»

یونس ١٤

دافغان مهاجر و ځورول دی بند کړای شی

په پاکستان کی دافغانستان سفیر

اسلام آباد :

دپاکستان په اسلامی جمهوریت کی دافغانستان داسلامی امارت محترم سفیر له پاکستانی مقاماتو څخه غوښتی چی باید افغانی مهاجرین ددغه هیواد دپولیسو لخوا ونه ځورول شی .

دپاکستان داسلام آباد له ښارنه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ : دپاکستان په اسلامی جمهوریت کی دافغانستان داسلامی امارت سفیر محترم ملا عبدالسلام ضعیف پرون دپاکستان دکورنیو چارو وزارت له معین

محترم تسنیم نورانی سره دکتنی په ترڅ کی دافغانی مهاجرینو او په تیره بیا د پیښور دناصر باغ په کمپ کی دمیشتو مهاجرینو دستونزو او مشکلاتو په اړوند خبری وکړی او له افغانی مهاجرینو سره دپاکستان دمرستو له امله دقدردانی په

ترڅ کی یې ددغه هیواد له مقاماتو څخه وغوښتل چی دافغان مهاجرینو او ستونزی او مشکلات په پام کی ونیسی او باید دوی دپاکستان دپولیسو لخوا ونه ځورول شی .

په دی کتنه کی دوسلو دراتولولو

٤ مخ

دامر بالمعروف له خوا

(٦٠) تنه په نیشه اخته کسان تداوی

اوله ځا رنی آزاد کړی شول !

اوس هم ٣٩ تنه روږدی کسان ترځارنی لاندی دی

روږدو کسانو ته روزنیز او اصلاحی پروګرام هم سرته رسیږی

کابل :

دامر بالمعروف اونهی عن المنکر وزارت دموظفینو داسلامی او اصلاحی فعالیتونو په دوام دروان کال په بهیر کی په مخدره مواد و څه دپاسه شپیته تنه روږدی کسان له تداوی او اصلاح وروسته له بندڅخه آزاد شول دامر بالمعروف اونهی عن المنکر وزارت معین محترم مولوی محمد سلیم حقانی دباختر داطلاعاتی آژانس له خبریال سره

٤مخ

د افغانستان د اسلامی امارت د ریاست لوزرا د اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند په ګډون

د عامی روغتیا وزارت د پلان جوړونی د ملی ورکشاپ دوهمه برخه پرانستل شوه

کابل :

د افغانستان د اسلامی امارت د ریاست لوزرا د اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند په ګډون د ملګرو ملتونو سازمان د خیریه موسسو او دحکومتی او غیر حکومتی انجوګانو له استازو سره د ١٤٢٢ هجری قمری کال لپاره

٤مخ

د افغانستان د اسلامی امارت

د امنیتی عالی کمیسیون خبرتیا !

کابل :

په دی خاطر چی دکابل په ښارکی د منازلو د کمیسیون ځالیانو او خپلو نورو امارتی ادارو او نورو مسئولو او غیر مسئولو اشخاصو څخه دکابل ښار د محترمو او سپینږیرو د کورونو جایدادونو ، سرایونو او دوکانونو په باب د اجراتو په هکله د امنیتی عالی کمیسیون له خوا د عدلیې د وزیر محترم ملا نورالدین ترابی په مشری توظیف شوی هیأت په ذریعه د خلکو په شکایتونو غور او

٤ مخ

په کندهار کی دټوکراوبدلو د فابریکی

بله څانګه هم فعاله شوه

کندهار :

دکندهار دوبدلو ټوکرانو داو بدلو دفابریکی دنازکو او ښکلو ټوکرانو څانګه بیا فعاله شوه . دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ : په هغې غونډه کی چی په دی اړوند جوړه شوی وه دفابریکی رئیس محترم ملا خیر محمد دانجنیرانو او کارګرانو دهڅو او هاند له امله قدردانی وکړه . دغه فابریکه چی

٤ مخ

په کندز کی یو نوی پمپ ستیشن پرانستل شو

کندز :

دخصوصی سکتور لخوا دکندز په ښارکی دډیزلو او دپطرولو دویش

٤ مخ

از طرف سازمان غذائی جهان

در ولایت سرپل کار در مقابل گندم آغاز میگردد

سرپل :

دفتر سازمان غذائی جهان مردم ولایت سرپل را در عرصه ترمیم وجغل اندازی سرکهای توزیع رایگان گندم وحفر چاه ها مساعدت مینماید .

ص٤

تیم فوتبال میوند بر تیم شعاع غالب گردید

کابل :

تیم فوتبال میوند دومقابل یك برتیم شعاع غالب گردید . آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد درنتیجه مسابقه جالب که

ص ٤

پوهنیار طبیبه رحیمه ظفر ستانکزی رئیسه شفاخانه رابعه بلخی:

درشفاخانه رابعهٔ بلخی ٦٥ تن متخصص درخدمت خواهران مریض ما قرار دارد

کابل شریعت :

امارت اسلامی افغانستان تمام شرایط صحی را درچوکات شریعت اسلامی برای خواهران فراهم آورده است . محترمه پوهنیار طبیبه رحیمه ظفر ستانکزی رئیسه شفاخانه رابعه بلخی در برابر پرسش خبرنگار ما گفت : شفاخانه رابعه بلخی یگانه شفاخانه کامپلکس اناثیه درسطح کابل بوده که دارای ٢٥٠ بستر

ص ٤

با فعال شدن برج برق گلخانه چهاردهی

۴٠٠ فامیل از نور برق مستفید گردید

به زودی قراء مربوط ولسوالیهای بگرامی وچهارآسیاب وقسمت اعظم شهر کهنه از نور برق مستفید خواهند شد .

کابل :

با فعال شدن برج برق گلخانه چهاردهی ولایت کابل چهارصد فامیل از انرژی برق مستفید گردیدند . آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد : بالاثر سعی وتلاش مسئولین ومنسوبین ریاست برق کابل برج برق گلخانه

ص ٤



عکس : نمایی از سبستیشن برق خیر خانه

عکاسی : یوسف

به خاطر تأمین صلح کوفی عنان به شرق میانه سفر میکند

نیویارك :

کوفی عنان سرمنشی سازمان ملل متحد دیروز اعلام داشت که درنظر دارد جهت تامین صلح در شرقمیانه هفته آینده به آن منطقه مسافرت کند.نامبرده گفته است فلسطینیها وصهیونیستها باید به تعهدات شان عمل نموده وموافقتنامه های عقدشده میان دوطرف را محترم شمارند از جانب دیگر رئیس

ص٤

په کونړ کی د مخالفو عالمانو یوه ډله له اسلامی امارت سره ملګری شوه

د کونړ ولایت د عالمانو مشورتی شورا چې د فعالیت مرکز یې دباجوړ په سیمه کې ؤ او پخوا یې د اسلامی امارت پرخلاف تبلیغاتی فعالیت کاوه له مخالفینو سره مقاطعه وکړه او د افغانستان اسلامی امارت سره یې خپل هراړخیز ملاتړ څرګند کړ . د کونړ له ولایت نه د باختر د

٤ مخ

په جاپان کی : د اتو تنو زده کوونکو وژنه ترڅیړنی لاندی ده

بهرنی خبری سرچینې :

جاپان ورمی ورځې پیښې ته هک حیران تللی دی چې ولی یوه سړی د پخلنځی په چړې د لومړنی ښوونځی اته تنه شاګردان په وحشیانه توګه ووژل . د ورځپانو سرمقالې وایی دا تشدد به د ښوونځیو د خوندی توب په متعلق د خلکو اندیښنی لا

٤ مخ

دانګلستان په حکومتی اداره کی ژور تغییرات راغلل

لندن :

دانګلستان صدراعظم ټونی بلیر ددغه هیواد په ټاکنو کی دکارګر ګوند له بریالیتوب وروسته ددغه هیواد حکومت په ترکیب کی ژور بدلونونه

٤ مخ

فلسطینیان به نن د امریکی وړاندیزونو ته ځواب وایی

خبری سرچینې :

فلسطینی مامورینو ویلی چې د یکشنبې تر ورځې پوری به یهودو سره د اوربند په اړه د خپلو باوری امریکا پیشنهادونو ته ځواب ورکړی . فلسطینیان وایی چې د امریکا د استخباراتو د مرکزی اداری رئیس جورج انه میاشتنیو ناکرار یو د خپلو

٤ مخ

په فلپین کی : د برمته شو کسانو د اعدام لپاره وروستی نیټه وټاکل شوه

خبری سرچینې :

د یکشنبې د ورځې دضرب الاجل هغه وروستی نیټه را رسیږی چې د فلپین مسلمانانو ګواښ کړی ؤ چې دری برمته شوی امریکائیان به یکی اعدا ، کاندی حکومتی پوځونو پرون د باسیلا ټاپو ولتاوه . د ابوسیاف ولی د ری امریکائیان او لس فلپینیان په دغه ټاپو کی یرغل ساتلی دی . دی ولی ګواښ کړی چې که د باسیلا حکومت د هغوی پر مرکزونو باندی پوځی ګوزارونه بند نه کړی او د مالیزیا مرکچیانو ته ددغه بن بست د ختمیدو په منظور د خبرو اجازه ورنکړی نو دوی به له

٤ مخ

وزراء دفاع روسیه وامریکا باهم درمخالفت قرار دارند

واشنگتن :

روسیه یك باردیگر مخالفت شدید خودرا با طرح دفاع ضدراکتی ایالات متحده امریکا ابراز داشته است

ص٤

سرمقاله

دلوي او بښونکي خداي(ج) په نامه

«امنیت شورئ» له افغانانو سره دښمنی په مورچل کي

داخو ښو څرګند حقیقت دی چی «امنیت شوری» په نړیوال ډګرکي دګوتو په شمار ځواکمنو هیوادونو یوه ساتندو یه اداره ده چې له فلسطین ، کشمیر چیچنیا او ... رانیولی تر افغانستان پورې ، ټولو مهمو اسلامي کشالو کي یې په کامله توګه بواړ خبز دریغ غوره کړي او تل یې دهماغو تېري کوونکو او غاصبو رژیمو نو مرسته او پلوي کړي ، نه دکمزورو او مظلومو خواؤ مګر دافغانستان په هکله دنوموړي اداري غرضي چلند لازیات بې اصوله او له نړیوالو نورمونو مخالف دي .

لکه چي په دي وروستیو کي دافغانستان پرخلاف یو لړ ظالمانه بند مزونه

٢ مخ

شریعت

دتاسیس کال	: ۱۳۷٤ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر	: الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال	: غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه	: په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري
تیلفون	: ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
پست بکس	: (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب	: ٤۰۳۸۵ د افغانستان بانک مرکز
چاپ	: امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

لګول ددی مدعا ښکاره ثبوت دی .

همدارنګه په بندیزونو برسیره داسلامی امارت دانتظام لاندي سیموته دوسلو او جنګی مهماتو دمخنیوی لپاره دهیواد پولي او سرحدونه ساتل لابل غرضي اقدام دی چی دروسانو او نورو لاس وهونکو هیوادو په اشاره یې پریکړه شوی او داپه داسی حال کی چی دمخالفینو سیمی ته دروسیی او نورو مداخله ګرو هیوادو نو هر ډول پریمانه وسلی او مرد کی راروان دی . خو له بده مرغه ددی په ځای چی امنیت شوری دهغی لاس وهنی مخه ونیسی ، کومه چی دوه ویشت کاله مخکی دروسانو له مستقیم پوځی یرغل نه راپیل شوی زمونږ دهیواد دورانی او ویجاړتیا سبب ګرځیدلي او ترننه لاهماغه لړی دوام لری ، برعکس دهیواد په اصلی ساتونکو او هغو میړنیو مجاهدینو بندیزونه لګوی چی د ځوارلس کلن جهاد او بی شانه سربښندنو په برکت یې روسان له هیواده وشړل او بیا یې ټینګ نظم او امنیت راوست « امنیت شوری » ته خو په کار وه چی دروسانو او سنی لاس وهنې یې بندې کړی وای او دپخوانی یرغل تاوان یې تری اخیستی وای ، نه داچی په لوی لاس هغوی ته دوسلو او نظامی مرستو دلاز یاتولو او رالیږلو ستر ګکونه وهی او په دی توګه دمخالفینو ملاتړ او په هیواد کی دجګړې او ړدولو باعث ګرځی - په هرصورت اوس افغانان دیو بیدار اوو یښ ملت په توګه خپل دوست او دښمن ډیر ښه پیژنی او دمغرضو او لمسوونکو خواو کاره نیستونه ورته څرګند او تربل هروخت زیات اوس دخپل هیواد ساتنی او بیا ودانولو ته چمتو دی چی له همدی امله دپراخو نړیوالو تبلیغاتو او پروپاګند وسره سره بیا هم داسلامی امارت په ملاتړ او مرسته کی ولاړ او دهیواد او خلکو له داخلي او خارجي دښمنانو سره په نه ستړی کیدونکی مبارزه بوخت دی - دافغانستان اسلامی امارت دخپل میړنی او مجاهد قوم په مرسته دهیواد دخپلواکی او سالمیت لپاره له هیڅ ډول هلو ځلو او قربانی سرنه غړوی او نه به دژوند تروروستی سلګی پوری دکوم لوری بی ځایه لاس وهنه وزغمی نو په همدی اساس یو ځل بیا له « امنیت شوری » نه په کلکه غوښتنه کوو چی نوردی په افغانستان کی بی ځایه لاس وهنه نه کوی او پردغه لهدښمنی ډک دریځ دی لهسره کتنه وکړی .

اروپایی مسلماني کورنۍ - ستونزې او حل لار

محمد الله « نورستانی »

مسلمانان اروپایی هیوادو ته په وقتي توګه تللي ؤ مګر اوس هلته د دوهم او دریم نسل پیداکیدو سره دهغو تولنو یوه برخه ګرځیدلي ، په ځو غربي هیوادو کي اسلام دوهم نمبر لوی مذهب دی ، لهذا دغو مسلمانانو ته وریبښو ستونزو ته پاملرنه او دهغه تجزیه نهایت ضروري دی . په دغو کرښو کي په غرب کي میشته مسلمانو کورنیو ته وریببه دیوی مهمی مسئلي « دپخوانی او د نوی نسل ترمنځ د فکري او کلتوري رابطي کموالي » په باب یوځه یادونه کیږي په پای کي په دریو اروپایي هیوادونو (سویس ، پولند ، او یونان) کي چي مسلماني کورنۍ کومو پریشانیو سره مخامخ دي په مختصر ډول یادونه کیږي .

له فکري او کلتوري رابطي نه مراد ، دمسلمان نسل په تیره بیا دمور پلار او بچیو ترمنځ یو داسي فکري او کلتوري تعلق دی چي د چاپه وسیله نوی نسل د پخوانی نسل د افتخار ، اسلامی اصولو او اخلاقي قدرونو حامل جوړیدای شي ، دغه رابطه یو کلتوري ضرورت دی ، له دغې ایجابي رابطي پرته هیڅ یو تهذیب هم نه د خپلو اصولو او عنعناتو ساتنه کولای شي او نه هم وده ورکولای شي . په غربي چاپیریال کي میشته مسلمانانو کورنیو کي دنوموړي رابطي سخت کمي دی او دا اندیښنه ده چي زموږ نوی نسل په غربي تولنه کي ضم شي د چاچي د مذهب او اخلاقي قدرونو په باره کي خپل ځانګړي دریځ دی چي هلته « مطلق ازادي » « انفرادي ذمه واري » دمور پلار د حاکمیت خاتمه او نورو ... غوندي نظریې واکمني کوي . چیرته چي د اسلام په باره کي منفي رویه لیدل کیږي . د مسلمانانو دنوی نسل زیاتره کسان که څه هم د اسلام طرف ته له نسبت نه انکاري نه دي مګر دوی د عقیدي او فکر له لحاظه د اسلام علمبرداران هم نه دي . په دوی کي زیاتره کسان له سختو ستونزو سره لاس ګریوان دي چي هم له خپلو کورنیو او هم له نورو مسلمانانو جلا شوی .

د دغي رابطي خنډونه :
دغه خنډونه په دوه قسمه دي داخلي او خارجي د داخلي خنډونو سبب په خپله مسلمانان دي چي په دې کي څه خنډونه تولنیز او څه اخلاقي دي .

مهم خنډونه په لاندي ډول دي :

د چاپیریال اختلاف :
یولوی خنډ د چاپیریال اختلاف دی ، مور پلار له اسلامي هیوادو نه په مهاجرت سره هلته تللي کوم چي بچي یې په غربي چاپیریال کي پیداشوي ، د مور پلار اصرار دی چي دوی په خپله کوم ځانګړي چاپیریال کي زوکړه او روزنه کړي دهغه پر خپلو اولادو تحمیل کړي مګر نه اسلام نه د ناواقفیت په نتیجه کي اسلامي اصول او دهغه اخلاقیات له مختلفو تاریخي او تولنیزو تقلیدي دودونو او رسمونو سره خلط او ګډ وډولای شي ، د بیلګي په توګه په یوه معامله کي په نجلي او هلک کي فرق کولای شي ، هلک له پردیو نجونو سره کولای شي خو بالعکس نجونی که له هر چا سره میلاوړي اجازه لري که څه هم شیبه بهر تیره کړي . په دې سره مسلمان ځوانان د خپل شناخت او پیژندګلوی له مسئلي سره مخامخ او دوی پر دوو ... کیږي چي په هغه کي مطابقت را وستل دوی ته مشکل وي ، له یوې خوا دده هغې تولني ته نسبت کیږي چي یکي یې زوکړه شوی او له بلې خوا د ده تعلق له یوه داسي دین سره دی چي هغه داتولنه نه تسلیموي ، دي تصادم مسلمان ځوانان داسي حالت ته را وستي چي دوی ذهني هماهنګي او فکري توازن له لاسه ورکړي او د دیني ، اخلاقي او کلتوري میراث په لاسته راوړلو کي له عملي ستونزو او خنډونو سره په کش وګیر کي دي ، د ذهني او د تولنیزو ستونزو یو سبب له لویي او پراخې کورنۍ نه جلاوالی دی چي په دې توګه د صله رحمي او ذمه واري احساس نه ورته پیداکیږي .

په همدې اساس په اروپا کي میشتو مسلمانانو ته په کار ده چي ترهر څه مخکي دوی په خپله د خپلو بچیانو د سالمي روزني په هکله پاملرنه وکړي او له نورو اسلامي تولنو ، تنظیمونو او دعوتي حلقو سره یې اشنا کړي .

له بلې خوا دا یواځې د مور پلار وظیفه نه بلکې د تولو مسلمانانو او د اسلامي تعلیمي ادارو ذمه واري ده چي دوی د دوو نسلو ترمنځ د مخ په زیاتیدونکي خلا په را کمولو کي کوښښ وکړي او که نه نو ، نوی نسل به د مادي اغراضو ښکار او له اسلام نه وګرځي ، په اروپا کي میشته اسلامي خوځښتونو ته پکار دي چي دوی خپل منځي اختلافات ختم او « مسلمانو بچو » ته پاملرنه وکړي دوی دې مور ، پلار او بچو ترمنځ د « واسطې » رول ولوبوي .

دوی باید دماشومانو دیني ، ثقافتي او تفریحي ضروریاتو درک او احساس وکړي ترڅو په ذهني توګه متوازن او د اسلام د ویاړ ور سفیران جوړ شي .

په اروپایي هیوادو کي د مسلمانو کورنیو بد حالي : په اروپا کي میشته مسلمانو کورنیو ته په وړاندې ستونزو باندي د بحث لپاره دلته صرف له دریو هیوادونو ته یادونه کوو :

۱- سویس : دلته د مسلمانانو تول تعداد ۳۸۵ زره دی چي یکي ۷۰ زره عرب دی ، دلته مسلمانان د زوال ښکار دی ، نوی نسل په غربي تولنو کي مدغم کیږي او د خپلي مورنۍ ژبې له ویلو محروم دي اروپایي طرز ، طریقې او رواجونه خپلوي ، دوی د شریعت د پابندي پرځای دولتي قانون ته ترجیح ورکوي ، په مسلمانو کورنیو کي د طلاق شرحه ٤۰٪ ده ، په مسلمانانو باندي د نوموړي هیواد تعلیمي ، تولنیزي او د تلویزیون بدي اغیزي ښکاره دي ، دجرمن سویټزرلنډ تر واکمنۍ لاندي سیمو کي ۵۰٪ مسلماني نجوني د بدکارۍ ښکار دي ، د بې وسۍ داحال دی چي ښاروالي هغه مسلمان لاشونه سوزوي د چاچي وارثان په ښخولو کي دلچسپي نه لري ولې چي د سوزولو مصارف له ښخولو نه کم دي ، د ۳۵۰ زرو مسلمانانو لپاره فقط ۱۰۰ جوماتونه دي او تعلیمي اداري هم له ارتیا نه ډیري کمي دي .

په اسلامي نړۍ او له هغې نه بهر له اسلام سره د تعلق اخري قلعه مسلمانه کورنۍ ده ، د مسلمانو کورنیو اسلامي تشخص او ددوی یووالي نه یواځې د مسلمانانو لپاره ګټور دی بلکې د شرق او غرب تا مسلمانو لپاره هم ډیر فایده مند دی ، د ازادی (غربي آزادي) عذاب مسلمانو کورنیو لپاره تر تولو ، لوی خطر دی د « مطلقې آزادۍ » منفي اغیزو د ټکنالوژۍ په تولو پرمختګونو او په اړولي ، نوموړي آزادي د تول بشریت لپاره لوی خطر دی ، « مطلقه آزادي » په ځنیځ کي زموږ نوی نژاد ته یوه تباه کوونکې خطره ده .

۲- یونان : په یونان کي څو کډوالي کورنۍ آبادې دي له « عربي نړۍ » نه د راتلونکو مسلمانو کورنیو لومړنی مرکز « ایتهنز » پاتي شوی ، د لبنان د کورنۍ جګړې او د خلیج له جګړې وروسته دلته کافي مسلمانان اوسیږي ، څه مسلمانو ځوانانو د خپل میشته کیدو یقیني کولو په خاطر او څه کسانو له تناهوتو د بچ کیدو ، له امله له یوناني ښځو سره واده وکړل مګر راتلونکي نسل د اخلاقي فساد ښکار او په جرائمو مبتلا شو .

خپل تول عمر د پیسو د لاسته راوړلو په خاطر صرف کوونکي کسان او د خپلو اولادو له روزني غافله کسان اکثره شکایت کوي « چي زما لور له مسلمان نارینه سره له واده کولو نه انکار کوي » او بچي یې هم نه یواځي وطن ته له تللو ډډه کوي بلکې له خپل وطن سره د هر قسم تعلق نه منکر دي ، د ډیر مسلمان میړه نه خپلي عیسوي [illegible] تعلیماتو نه خبر وي ، په [illegible] بچو او نورو ځوانانو د روزني لپاره [illegible] که یوځه کار روان دی مګر هغه په انفرادي ډول دی په کار ده چي دغه عمل په پراخه پیمانه او په منظم ډول سره وکړی شي .

۳- پولند : په پولند کي د مسلمانو کورنیو دیني او اخلاقي حالت په خپلو کي سره مختلف دی ، دلته پنځه زره تاتاري نژاده مسلمانان له ننه شپږ سوه کاله تر مخه میشته شوي دوی اکثره په ختیځو سیمو کي میشته دي داخلک تر اتیایمي لسیزي پوري د کمونیستي ترخو پایلو تر اغیزي لاندې پاتې شوي ، دوی د کمونیزم د شکنجو او تعذیبونو له امله په عیسوي المذهبه تولنو کي ضم شول ، له سیمې اسلامي تعلیماتو نه دومره بي خبره شول چي مسلمانو ښځو له عیسائیانو سره واده وکړل د دغو مسلمانانو په خبرولو کي یوشو عواملو کار وکړ ، د اتیایمي لسیزي په اواخرو کي « عربو مسلمانو محصلینو » په تاتاریانو کي د اسلام تبلیغ شروع کړ د اوونۍ په پای کي تقریرونو ، د جمعې خطبو او د اسلامي مطبوعاتو په پولش (محلي ژبه) د ژباړنې په وجه هر اړخیز ډول دعوت وکړ ، مسلمانان بیا سره متفق او تولې کورنۍ یې د ښځو او دماشومانو په ګډون په مختلفو اسلامي اخترونو کي سره یوځای کیږي ، د روژې په اوله ، ۱۵ مه او په ۲۷ مه تول په جوماتونو کي سره یوځای کیږي .

د پولند دوه سوه مسلماني کورنۍ د دې ځای اصلي اوسیدونکي دي دغه خلک د خپلي کورنۍ په تشکیل کي د اسلامي منهج د پیژندلو او په هغه د عمل کولو لپاره همیشه فعالي پاتي شوي البته (په افسوس سره) د هغوی عامه ژوند په اروپایي طرز او طریقو باندي تیریږي ، له بهر څخه راغلي عرب او نور مسلمانان ۱۵ زره دي چي یکي محصلین ، سوداګران او سفارتي کارکوونکي شامل دي په دوی کي څه خلکو له پولندي ښځو سره (کومه چي له واده نه مخکي یا وروسته مسلمانیږي) د واده په ذریعه تابعیت تر لاسه کوي په مختلفو قومونو باندي د مشتملو کورنیو (د بیلګي په توګه میړه عرب او میرمن پولشه) شمیر ډیر زیات دی څکه نو محصلین او [illegible] په پولند کي میشته کیږي [illegible] سوی د غه کورنۍ له مختلفو [illegible] ستونزو [illegible] چي یکي د ښځي خاوند مزاج او مذهبي تعصب هم شامل دی د دغسي کورنیو بچي له رنګارنګ مسئلو سره لاس او ګریوان دي ، په دوی باندي دیني تګلاره هم نه ده واضحه دغه ودونه اکثره په ناکامي ، طلاق او د بچیو پر فساد باندي منتج کیږي ، که چیري ښځي ښه په سوچ فکر او په خپله خوښه اسلام قبول کړی وي او میړه یې هم دیندار وي نو بیا پر کورنۍ باندي د اسلامي اخلاقو اغیزي ډیري وي او کنه بیا « مسلماني کورنۍ » له ډیرو ستونزو سره مخ کیږي د « یورپی مسلم خاندان : مسائل اور حل » د محمد ظهیرالدین بهټي ، له مضمونه په معمولي تغیر سره پښتو ژباړه .

داسلامي نړۍ طبابت ته لنډه کتنه (۲)

پوهاند عبد الحی مؤمنی

دطبابت په برخه کي داوېستا ارزښت :

دطبابت په برخه کي داوېستا عمده ټکي دادي :

دناروغیو منځ ته راوړونکي خدای « ج » دی چي تداوي یې د الله پاک څخه مرسته غوښتل او اوراد لوستل دي ، همدارنګه دناروغي علت د دښمنانو جادو اوسترګي وهلی (نذر) هم قبلوی او فزیکي او طبیعي عوامل هم د ناروغیو په پیښیدو کي له پامه نه غورځوي .

افراط او تفریط او د بدو عاداتو لرل هم د امراضو موجب ګرځي ، زردشتیانو په عقیده مار ډیر ګندې مخلوق ګڼل شوی دی ، همدارنګه په [illegible] کي راغلي چي آهورا مزدا لس زره شفا ورکوونکي ګیاوي دده په اختیار کي ورکړي دي ، دوېني نقش د ناروغیو په خبرولو کي د توجه وړ او مؤیدانو به خلکو ته نصیحت کاوه چي د وېني پاکوالي په پام کي ولري .

د جنین سقط منع ؤ او هغه ښځي چي سقط یا ولادت یې کړی وي د ګیمز (د غوایي تشي متیازي - بولې) په ذریعه یې تطهیروله .

د سقط دواګاني معلومي وي او که دچا په اختیار کي به کیښودل شوې سخت مجازات ورته ورکول کیده ، دغه دواګاني چي د [illegible] کتاب کي یې نوم اخیستل شوی عبارت دي له بنګ (شادانه) ، شیتا (طلا یا زیر نبات یا زیره مایع) ، غنا (هغه دواچي وژونکي ده) ، فراسپاتا (چي میوه یې مرګ راوړي) چي د هغو له جملې څخه بنګ معلوم دی او نور یې نه پیژندل کیږي ، د زردشت په مذهب کي سپی نه یواځې د احترام وړ دی بلکې داسي فکر کیده چي که سپی یوه کړکجن ته وګوري خبیثه ارواح دهغه څخه [illegible] حفظ الصحي په برخه کي زردشتي طبابت خپلي لوړي څوکي ته رسیدلی ؤ ، په دې برخه کي یو لړ قوانین منځ ته راغلي او د اوبو ، خاورو ، اور او نباتاتو ککړول منع کړل شوي ؤ .

د مړي سره تماس د ملوث کیدو موجب ګرځیده او هغه سړی باید ۹ شپې سر په سر ځان مستخلا وای .

د انسان او نورو حیواناتو هډوکي چي د هغو څخه غوړ یا ماغزه جاري وي د ځمکي پرمخ اچول بې جرم ګڼل کیده داځکه چي د خاوري ، اوبو او هوا د ککړتیا موجب ګرځیدل .

د مړو د ښخولو لپاره داسي برجونه جوړ شوي ؤ چي خاروی او وحشي حیوانات هلته [illegible] نشول ، د دواؤ تجویز او انتقال یې د اشخاصو په اختیار کي ؤ .

همدارنګه د آتوربانو په شاني د طبابت او دیني چارو په منځ کي جلا والي موجود ؤ مګر د طبابت لپاره د لوړو طبقاتو له خوا انتخابیدل ، خو بیاهم د مسلک تعینیدل انتخابي ؤ چي مذهبي چارې پرمخ بوزي او یا طبابت ته مخ واړوي . خو په عمومي توګه د روحانیونو زامنو په مذهبي چارو او د طبیبانو زامنو د طب په ساحه کي [illegible]

په روغتونونو کي چي د منځني ایشیا په اکثرو ښارونو کي موجود ؤ طبي درسونه ورکول کیدل . دې تحصیل څو کاله دوام درلود چي عملي او نظري برخي یې لرلي . محصلین په دریو رشتو کي فارغیدل چي هغو باندي بې « د تقدس له لاري شفا ورکوونکي » « د قانون له لاري شفا ورکوونکي » او « د چاقو په ذریعه شفا ورکوونکي » نوم ایښی و [illegible]

دساینس نړی

متصدی — شریفی — امرخیل

کهکشان چیست ؟

همه موجودات بطور کل به شمول زمین ،ستارها ، وکهکشان ها وآنچه در آسمان موجود است وفضایی را که همه این موجودات درآن حرکت داشتند ودارند بنام کاینات یاد می گردد . ما در زمین زندگی می کنیم وزمین جز از مجموعه ی سیاراتی است که بدور آفتاب درحرکت بوده وبنام نظام شمسی یاد می شود . مجموع سیارات نظام شمسی که بدور آفتاب در حرکت می با شند به حساب فاصله آنها از آفتاب بدین ترتیب است . عطارد ، زهره ، زمین ، مریخ ، مشتری ، زحل ، اورانوس ، نیپتون و پلوتو برعلاوه این ها در ساحه بین سیاره مریخ ومشتری سیارات بسیار کوچکی وجود دارند که عموماً در مدار های دایروی بدور آفتاب حرکت می کنند این ها را ستراینت ها یا سیاره نماها یاد می کنند . تاکنون از حدود سی هزار از این سترایت ها توسط تلسکوب ها عکس بر داری شده است . بزرگ ترین این سیاره نماها (سریس)نام دارد که دارای قطر چار صدو هشتاد میل است و بعداز آن پلا س است که قطر آن سه صدمیل میبا شد . سیاره نماهای باقی مانده دارای شکل ها ی غیر منظم وکوچك می باشند .

کوچکترین سیاره نمایکه تاکنون دیده شده درحدود یك میل طول دارد.

سیاره نماهای کوچکتری از این هم وجود دارد که تاکنون دیده نشده اند . سیارات دیگری غیر از زمین بعضی بیش از اندازه گرم ویا سرد هستند ویا از موادی که ترکیب شده اند برای انکشاف حیات مساعد نمی باشند نظام شمسی به نوبه خود یك جز کوچك کهکشان ومجموعه یی از ملیارد ها ستاره استرستاره شناسان می گویند که کهکشان دارای شکل تابه مانندی است که حصه مرکزی آن ضخیم ترمی باشد.

قطر کهکشان ماهشتاد هزار سال نوری است.

تلسکوب های بزرگ عصری نشان میدهد که در فضا کهکشان های بسیار زیادی وجود دارند که مجموع شان لااقل به یك ملیارد میرسد وهرکدام از ین کهکشان ها دارای ملیون ها و حتی ملیارد ها ستاره می باشد وهریك از کهکشان ها ی موجود در فضا ملیون ها سال نوری از همدیگر فاصله دارد.

سال نوری فاصله یی را گو یند که نور درظرف یکسال طی می کند. نوردریك یکصد ثانیه هشتاد و شش هزار میل یا تقریباً سه صد هزار کیلو متر حرکت می کند فلهذا اگر یکسال را به ثانیه تبدیل کنیم وتعداد ثانیه را در یکصد وهشتادو شش هزار میل ضرب نمائیم یکسال نوری فاصله پنج هزاروهشت صدو شصت وپنج تر یلیون و شش صدونو د وشش ملیارد میل میگردد که این فاصله بسیار بزرگ است و ما وشما در هرجای از زمین که زندگی کنیم خواه در قطب شمال ویا جنوب ویا درحصه استوایی آن ، در بالای سرخود یك فضای لایتناهی را مشاهده می کنیم که مملو از ستاره های دور ونزدیك وخالیگاهاست ولی بصورت نسبتی آنچه در بالای سرخود در فضامی بینیم آنرا آسمان می گوییم

« امین »

دواى جدید براى سرطان خون ساخته شد

ساخت یك دوای جدید که برای مرض سرطان خون از جانب حکومت امریکا تصویب گردید علایم موفقی را برای تداوی یك نوع سرطان دیگرهم نشان داده است دانشمندان بین المللی انجمن مرض سرطان امریکاطی یك کنفرانس در سانفر انسکو گفتند که دوای جدید بنام « گلیدیك » تومورهای پیشرفته معدوی و امعا راکه تدوای قبلی برای آن موثر نبود منقبض وبسیارکوچك نمود.

داکتر چار لز بلاك از پوهنتون علوم صحی ایالت اریگن گزارش داد که از جمله یکصدو چهل وهشت مریض مبتلا به چنین تومورها که برای این تدوای از ما پیشی ثبت نام کرده بودند تطبیق روزانه گلیدیك تومورهای پنجاه به فیصد آنها را کوچك تر ساخته ویه سوی شفا نزدیك ساخته است اگرچه تحقیقات این داکتر هنوزهم درمراحل ابتدائی قرارد ارد ولی نتایج آنرا تشویق کننده خواند .

دانشمندان هم بلا میکنند ، بلا !؟

اخیرا دانشمندان در نفت خام مواد عجیبی را پیدا کرده اند که به نظر آنها فوسیل یا بقایای اولین موجودات ذره بینی اند که حیات درکره زمین با آن آغاز شده است. بیشتر از این موجودات ذره بینی فقط ترکیبات کیمیاوي جسم آن ها بصورت مایع باقی مانده است وبااین ترکیبات نمی توان پی برد که ساختمان فزیکي این موجودات چه شکلي داشته است حالانکه درمورد فوسیل هاي جامد یا سنگواره یی ساختماني فزیکي موجودات بخوبی حفظ می شود . هیچ کسی براستی نمیداند . اماوانشمندان معتقدا ند که موجودات ذره بیني در لایه هاي سنگ موجود اند اما چیزي که دانشمندان مرکز تحقیقات زمین شناسی در استرالیا ویك لابراتوار تحقیقي وابسته به مرکز تحقیقات فضایی امریکا (ناسا) آنرا فوسیل مالیکول نامیده و بسیار مهم دانسته اند که در تاریخ موجودیت کره زمین فصل تازه یی را بازمی کند . این فوسیلهاي مایع ، بقایای کیمیاوي نوع باکتري ابتدایی است که فعالیت حیاتی آن ها با آهستگی، اما کاملاً جو زمین را تغیر داد تا شرایط مناسب برای پیدا یش انواع بیشمار جانداران بوجود آید . این باکتري ها مواد موجود در جوراجذ ب می کردند وتولید آکسیجن می نمودند وسالهاي سال طول کشید تا باکتریها توانستند با آکسیجن که وارد جومی شود هوا یی را بوجود بیاورد که ماامروز با تنفس آن زنده هستیم .

شاگرد

کشف ستاره جدید درکهکشان

ستاره شناسان امریکایی دورترین وقدیمی ترین ستاره یی را مشاهده کرده اند که که بفاصله ده ملیارد سال نوري منفجر شده است ، دیده شدن این ستاره توسط تلسکوب فضایی (هابل) این نظر یه را تائید می کند که توسعه کاینات در طول زمان سریع تر شده میرود . ستاره جدید یا سوپر نوا ه ستاره هاي بیرنگ وکمنوری هستند که بطور ناگهاني مشتعل و نوراني ترمی شوند .این ها بعضی اوقات حتی صدها هزار مرتبه بیشتر از سابق نوراني تر می شوند.

ستاره شناسان عقیده دارند که مشتعل شدن یك ستاره جدید در اثر انفجار ستاره ایست که القشر خارجی آن بخارج پراکنده می شود وباعث میگردد که تشعشعات مقادیر زیاد انرژی از داخل ستاره قابل دید شود . ستاره جدید که اخیراً از جانب ستاره شناسان امریکا یی دیده شده است نظر به هر ستاره دیگر که تاکنون دیده شده است یکنیم چند دورترمی باشد این ستاره جدیدازآنچه که انتظار میرفت روشن تراست .

همکار

براي جلو گیري از حملات قلبي دواي جدید کشف گردید

محققین موفق به کشف دواي ترکیبی شده اند که جلو حملات قلبی را میگیرد . محققان درایالات متحد ه امریکا به قلب خر گوشها شوت الکتریکی دادند وضربان قلب انها را نا منظم کردند پس از علس دواي ترکیبی وکردن نتیجه از معاینات قلب خرگوشها متوجه شدند که قلب این خرگو شها ضربان منظم خودرا باز گرفته است . محققان میگویند که ضربان نامنظم قلب حامل یا نزده فیصد سکته هاي قلبي شناخته شده است

اعلانات

ریاست عمومی احیاو انکشاف دهات مقدار سه هزار لیتر تیل دیزل ومقدار نه صد لیتر تیل پطرول را به قیمت مجموعی مبلغ شصت وسه ملیون ونه صدهزار افغانی بعداز وضع صکوك مالیه از بازار نرخ گرفته است . مناقصه کننده گان درخواست های خویش را بریاست اداری ریاست عمومی احیا وانکشاف دهات دردفتر ریاست الوزرا بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ریاست برق کابل قرطاسیه سال ۱۴۲۲ خویشرا قرارداد مینماید .

اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنراداشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست برق کابل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

شرکت ساختمانی منوچهری تعداد یکصد ودوازده قلم سامان برق مورد ضرورت سال ۱۴۲۲ وزارت هوانوردی ملکی وتوریزم را با پنجاه و دوفیصد تخفیف باهمه وجانب مالیاتی کمتر ازنرخ بازار قبولدارگردیده است . مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت هوانوردی ملکی وتوریزم بسپارند وخودشان ازتاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۷ مراجعه نمایند شرطنامه ومشخصات را ملاحظه کرده میتوانند دوفیصد تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت معارف پنجصد دانه تخته حروف نویسی را به قیمت مجموعی مبلغ یك صدو شصت پنج ملیون افغانی از بازار نرخ گرفته است . مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت معارف بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

نخاس کپمنی وچمن ببرك به اجاره داده میشود .

شایقین درخواست های خویشرا بریاست ناحیه پنجم شاروالی کابل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ریاست عمومی کاروامور اجتماعی جهت شعبات ومعارفات وسایط خویش به روغنیات ذیل درسال ۱۴۲۲ ضرورت دارد . تیل دیزل هزارو پنجصد وهشتاد وپنج لیتر ، تیل پطرول هزارو یکصد وبیست و دو لیتر تیل خاك دوصدو ده لیتر هایدرولیك انگلیسی پانزده قطی میلاتیل ۲۰ در ۵۰ پنجاه و دوگیلن ، سیاانیل انگلیسی بیست وچار گیلن ، گریس ایرانی ده قطی ، وبکم برك جرمنی سی ودو قطی ،آب انتی فریز ایرانی سی وپنج لیتر ، فلتردیزل بیست و پنج دانه ، فلتر میلاتیل به سایز های مختلف بیست وشش دانه ، اشخاص وموسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا طور قرارداد داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست کار وامور اجتماعی بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند لست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

ریاست عمومی اتاقهای تجارت و صنایع واقع پل باغ عمومی دو عراده موتر بنز ۳۰۲ ویکعراده موتر کرون ملکیت خویش را لیلام میشماید . علاقمندان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۸ تاده روز بمدیریت خدمات ریاست عمومی اتاقهای تجارت و صنایع مراجعه نمایند .

***

احمد نوید فرزند عبدالواحد یك باب دکان ملکیت بانك رهنی وتعمیراتی واقع سینما پامیر را ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی برای مدت یکسال قبولدار گردیده است. مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تعمیرات بانك رهنی وتعمیراتی بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۸ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد.

***

به اطلاع محمد شریف فرزند نظراب شاه ،که قبلاً درمجلس لیلام بیست وهشت عراده موتر های جمعیت عالی سره میاشت یك عراده موتر لندکروزر شش سلندره پطرولی که دارای انجن F۰۰۶۸۸٤ وشاسی FJ ۰۰۲۲۲۹۸ میباشد به مبلغ بیست ودوملیون و هفتصدهزار افغانی خریداری نموده بود و مبلغ سی فیصد پول آن را نیز تسلیم نموده است میرساندکه از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱٦ تاده روز بریاست تخنیك وترانسپورت حاضر شود درغیرآن موتر فوق الذکر را با مشخصات آن دوباره لیلام ،بنماید آنگاه حق شکایت رانخواهد داشت.

***

به اطلاع هریك عبدالبصیر فرزند عبدالرزاق ، نورمحمد فرزند سید خان ، یحیی خا ن فرزند .... عبدالغیاث فرزند عبدالرزاق ، محمد بصیر فرزند محمد حکیم ، سیدجان فرزند سیدخان ، نوراحمد فرزند غلامسخی ، گل احمد فرزند شیر محمد ، خواجه محمود فرزند سید شاه ، غلام حسین فرزند سخی داد ، انورفرزند مشهور به اندخوئی حسن فرزند محمدعلی ، حاجی عبدالقادر فرزند صدرالدین ، حسین خان فرزند غلام حیدر دکانداران فاریاب مارکیت واقع شهرنوکابل میرساند تا غرض حل وفصل دعوی حاجی همایون فرزند قمبر بای از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۸ تاده روز بریاست دیوان تجارتی محکمه مرافعه ولایت کابل حاضر شوند درغیرآن فیصله غیابی صادر میگردد وآنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

په پښتو شعرکې مذهبي څرکونه

د ثبات لیکنه اوڅیړنه

۴

د ښکارندوی په پسرلني توصیفي قصیده کې :

د « لرغوني پښتانه » او « تاریخ سوري » په حواله روایت دی چې ښکارندوی میشته د غور ؤ او کله کله په غزني او بست کي هم اوسیدلی ، پلار یې احمد نومیده او دغور د فیروز کوه (دغور دشنسب د کورنی د پاچاهانو پایتخت) کوتوال ؤ د سلطان شهاب الدنیا و الدین محمد سام شنسباني په پادشاهي کې مخور او د دربار خاوند ؤ او هغه وخت چي سلطان پرهند یرغل کاوه ښکارندوی چي شاعر او عالم سړی ؤ هم د هغه سلطان په لښکرو کې ؤ .

دا دی د ده په پورتني عنوان بولله کي چي د محمد سام علیه الرحمه ستاینه ده ، دخالق تعالی دخلقت دښکاروتو د ابتونو پلوشي د پسرلي په ډیرو ښکلو مظاهرو کې داسې په ګوته کیږی :

د مسیح په یو به مړو ژوندون بیاموند

پسرلی مګر مسیح سو په یو کړونه

له مړو خاورو یې اغلی ګل را وبوست

دچ بیدیا او غریبی کرله جتونه

(پټه خزانه ۵۰ - ٦۲ مخونه)

او دا هغه انتساب دی چې د لوی خدای هغه قدرت ته شوی دی چې د ښپی پسی ورځ راولی ، مړی ژوندی کوی ، او هم د مړو د ژوندی کولو اعجاز یې حضرت عیسی مسیح الله علیه السلام ته ور اعطا کړی دی . . .

***

د شیخ عیسیٰ «رح» په شعر کې :

شیخ عیسی علیه الرحمه چې د شیرشاه سوري د پاچهی په زمانه کې یې ژوند کاوه لوی ولی ؤ او د خدای « ج » په توحید کی یې ښه شعرونه په پښتو او فارسی او هندوئي ویله (پټه خزانه ٧٤ مخ)

په لاندنی دری بیتیزه شعر کی یې د الله د کمال قدرت او حکمت انځور داسې ایستلی او دخدای ، په خدایی یې د خپلی توحیدی عقیدی څرګندونه داسې کړی ده :

پخپله کار کړي پخپل انکار کړي

کله یادار یم ، کله می خوار کړي

ته خو قادر یې په صفتونو

کله مې نور کړي ، کله مې نار کړي

« عیسی » حیران دی په دی شیونو

کله می ... کړي ، کله اغیار کړي

یې له شکه په پورتنی شعر کې په لوی خدای باندي د ایمان مفصل ماهیت ډیر ښه تجسم موندلی دی .

***

د دوست محمد کاکړ له غرغښت نامې څخه :

په دی اثر کې د پټې خزانې د (۸۸) مخ د معلوماتو له مخې چې د یو حکایت شکل لری د اسلام د مقدسې لاري ښکلې فکه د « پرهیزګاری » « ریاضت » او « جهاد » تصویری مشخصات بیان شوی دی چې دادی په یوڅه لنډیزه پر ته له توضیحي بحث څخه د هغه ... را نقلولو اکتفا کیږی .

له نیکانو روایت دی — هسې تر ګه حکایت دی

نورمحمد کاکړ راوی دی — چې یې فیض تل جاری دی

د نیکونو له خولي وایی : — چې مشنت یې راته ښایی

« چې کاکړ نیکه زاهد ؤ — لوی ځښتن له تل عابد ؤ

تل ترتل یې عبادت کا — پر دې لار یې ریاضت کا

شپې یې روڼې په لمانځو وې — په ژړا و په ناروږي

نه یې خوب نه یې خوراک ؤ — عبادت یې ژوند وژواک ؤ

چې به کښیناست په لمانځنه — یا به کښیوت په ستاینه

ورځ یې بوله په قعده وه — شپه یې هم یوه سجده وه

تل یې سیر د لاهوت کا — په یوه ګوله یې قوت کا

غرق به تل په ذکرالله ؤ — هر سبا او هر بیګاه ؤ

یوه شپه یې عبادت کا — پسر ګناه یې ندامت کا

سترګې یې سوی له خوبه — په شپو شپو یې ؤ وبیتوبه

هسې خوب یې ولید ګرانه — چې غرغښت یې ښهانه

وایی ای کاکړه زویه ! — له تا خوښ یمه نیکخویه!

ستا قدم زما په لار دی — ما سره کې دي قرار دی

شپه او ورځ دې د لمانځنه — د څښتن عبادت کړنه

ولی پاتی له تا نور دی — شپی او ورځې دې په کور دی

څه جهاد کړه پر تا فرض دی — داهم ستا دغاړې فرض دی

یوه ورځ جهاد افضل ؛ — تر کلو کلو لمانځل

څوک چې تل لمونځ و روژه کا — په جهاد په یې یوره کا

لومړی شرط د دین همدا دی — یا خدمت د خلق الله دی

له تا پاتې دواړه دینه — ځان خبر کړه بیه له دینه

توره واخله مجاهد شه — د لوی خدای د دین قاصد شه

چې دې بشیر عبادت سی — ...

(پورتنی اثر ۹۱ - ۹۰ مخونه)

پاتی لري

٦٠ تنه په نبشه ...

دخبرو په ترځ کې ددغـه وزارت دموظفینو داسلامي او اصلاحي فعالیتونو په باره کې رڼا واچوله او وی ویل : څرنګه چې دعالیقدر امیر المو منین له فرمان سره سم په هیواد کې دکوکنارو کرکیله په سلو کې سل بنده شویده او زمورموظفینو په مخدره مواد و یوزیات شمیر روږدی کسان دکابل ولایت له بیلابیلو سیمو څخه ونیول او دیوی مودی لپاره یې دتداوی او اصلاح په خاطر ترڅارنې لاندې ونیول لکه څنګه چې دروان کال په بهیرکې شپیته تنه دغه روږدی کسان له لازمی تداوی او اصلاح وروسته له حبس څخه آزاد شول او او س هم نهه دیرش تنه روږدی کسان داصلاح په خاطر په اروند ونظارت خانو کی ترڅارنې لاندې دی .

ده زیاته کړه : په څوسو روږدو کسانو ته دری میاشتی حبس او په هیروئینو روږدو کسانو ته شپږ میاشتی حبس تجو یز شوی دی چې دهمدی مودی په بهیر کې دهغو ی د اعاشی اباتې او درملنې لګښتونه داسلامی امارت له بودجې څخه تموبلیږی او هر یوه تن ته په یوه شپه او ورځ کې کافی اعاشه اختصاص شویده ، دغه راز په دې باب منظم روزنیز او اصلاحی پروګرام شته چې مور په دی برخه کې بریالیتوب هم ترلاسه کړی دی.

دعامي روغتیا وزارت ...

دعامی روغتیا وزارت د پلان جوړونې د ملی ورکشاپ د کار دویمه برخه د انټر کانټیننتال هوټل په تالار کې پیل شوه .

د باختر اطلاعاتی اژانس خبریال خبر راکړ :

ددغه ورکشاپ د کار په پیل کې د عامی روغتیا وزیر محترم ملا محمد عباس اخند د بهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمن زاهد د پلان وزیر محترم ملا سعدالدین سعید د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت معین محترم مولوی محمد سلیم حقانی او د ریاست الوزرا اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند په وار سره د مسلمه امت د ستونزو او مشکلاتو په مقصد د افغانستان له اسلامی امارت سره د موسسو د یوهماهنګ او عملی پلان د طرحې د خلکو د روغتیا د تامینولو په خاطر د دله ییز کار د اړتیاله دول دول ناروغیو سره د مقابلی او په اسلامی امارت کې د طرحه شویو موازینو او پرنسیپونو د رعایتولو په باب اوږدی خبری وکړې .

د دغه ورکشاپ په نننی کار کې د وزیرانو شورا څینو غړو د عامی روغتیا وزارت معینانو د ولایتونو د عامی روغتیا د ریاستونو چارواکو د ملګرو ملتو د سازمان د مرستندویو موسسو او د حکومتی او غیر حکومتی انجوګانو استازو برخه اخیستی وه .

دافغان مهاجرو ...

په باب هم خبری اتری وشوی او دپاکستان لوری هیله څرګنده کړه چې دافغانستان د اسلامی امارت سفارت او قونسلګری دوسلو په راتپولولو کې چې پروګرام یې دروان میلادی کال دجون دمیاشت له ۲۱ نیټې څخه پیل کیږی له پاکستانی مقاماتو سره همکاری وکړی.

په پاکستان کې دافغانستان محترم سفیر په دې اړوند دځپلی همکاری داډ ورکړ او پیشنهاد یې وکړچې دوسلو دراټولولو پروګرام دې په منظم ډول ترسره شی او افغانی مهاجرین دې په دې نامه ونه ځورول شی .

په کندهار کې ...

دبیلا بیلو عواملو له امله له فعالیت څخه لویدلی وه دمسئولینو دپاملرنې په نتیجه کی بیا فعاله شوه او دډول ډول ښکلو او تازګو تو کرانو او پټو ګانو په تولید یې پیل کړیدی .

درولایت سرپل ...

آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد:
محترم مولوی عبدالمنان حقیار والی ولایت سرپل دیروز با مسئول دفتر سازمان غذائی جهان درولایات جوزجان سمنګان وسرپل محترم عبدالبصیر قریشی ملاقات نموده ومسئول دفتر متذکره بخاطر جلو ګیری از تاثیرات خشکسالی آماده ګی اداره مربوط را درمورد توزیع را یګان ګندم به مستحقین حفر چاه ها حموض ها ترمیم و جغل اندازی سرکها با سازماندهی پروګرام کار درمقابل ګندم وکمک به مهاجرین وبیجا شده ګان ابراز داشت .

تیم فوتبال میوند ...

عصر پریروز میان تیمهای میوند وشعاع درستدیوم ورزشی کابل را ه اندازی ګردید تیم فوتبال میوند بازی را دومقابل یك به نفع خویش به پایان رسانید . از جریان این مسابقه هزاران تن از ورزش دوستان تماشا نمودند .

دامنیتي عالي ...

څیړنه شوی وی دکابل ښار تپولو محترمو اوسیدونکو ته خبر ورکول کیږی چې دوی دې خپل شکایتونه او عرایض دغور کولو په خاطر د روان کال د ربیع الاول د میاشتی په ۱۸ نیټه د یکشنبی له ورځې څخه د ربیع الاول دمیاشتی تر۱۹ نیټې د دوشنبې تر ورځې پورې دعدلیی وزارت مقر ته وړاندې کړی . چې بیا د موظف هیأت لخوا د کابل ولایت د امنیه قوماندانی د اړوندو حوزو او ماموریتونو له لاري هغه شخص چې شکایت ورڅخه شویدی جلب او دشکایت کوونکی پوښتنه او غور وکړی . او که بیا څوک د ماموریت او یا حوزی دجلب په ذریعه حاضر نه شو د نظامی کمیسیون له لاري په جلب او دشکایت کوونکی په شکایت به غور کیږی .

په کندز کي بو ...

پمپ ستیشن نوی جوړاو دګټې اخیستنې وروګرځید.

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ: دغه پمپ ستیشن دیر اتیا زرو لیترو ډیزل او پطرول تیلو په ظرفیت زیرمه لری او دخصوصی سکتور لخوا دیو ملیارد و پنځه سوه ملیونو افغانیو په لګښت دکندز په ښارکی دکابل په بندرکې دیو جریب ځمکې په ساحه کی جوړشوی ی.

په کونړ کي ...

اطلاعاتی اژانس خبریال خبر راکړ: ددغې شورا رئیس مولوی بیان الله حامد پرون په هغې غونډه کې چې ددغې شورا د پښتون په خاطر د کونړ ولایت دمرکز والی باغ په جامع جومات کې جوړه شوی وه د افغانستان له اسلامی امارت سره خپل ملاتړ او پښتون څرګند کړ او د مخالفینو کړه وړه او عملونه یې مردود وبلل . په دې غونډه کې د کونړ والی محترم مولوی عبدالهادی اخندزاده د دغې شورا د اسلامی تصمیم له امله قدردانی وکړه .

دانګلستان ...

راوستی دی .

ټونی بلیر دراتین کوک برخای چې دبهرنیو چارو وزارت چاری یې پرمخ بیولی په ناځاپی ډول جک ستړا ، چې دکورنیو چارو وزیر وپاکلی دی ددیو بد پلنکت په نامه دانګلستان بوازنی روند وزیر چې دیوونی او روزنی چاری یې پرمخ بیولی دجک ستړا پرځای ټاکل شویدی .

همداراز دمحافظه کار ګوند مشربه انتخاباتو کی ددغه ګوند له ماتی وروسته ددغه ګوند له مقام څخه استعفا کړیده په دغو ټاکنو کی دکار ګر ګوند دپارلمان څوکیو... دپارلس څوکی او محافظه کار ګوند یو سو شپږ شپیته څوکی ګټلی دی .

٤٠٠ فامیل از نور ...

چهاردهی مربوط جکشن چهاربه ظرفیت چهارصد کیلوولت فعال ودیروز توسط محترم ملا محمد ناصر کبیری رئیس برق کابل افتتاح وبه بهره برداری سپرده شد .

بافعالیت برج برق متذکره چهارصد فامیل از هموطنان ما از انرژی برق مستفید ګردیده است درقسمت احیا وباز سازی تاسسات برق رسانی ازطرف وزارت آب وبرق اقدامات لازم صورت ګرفته وبتاریخ نهم ماه جاری جکشن نمبر هفت برق کابل نیز احیا ګردیده که با تمدید لین های مربوط این جکشن درآینده قرا، مربوط ولسوالیهای بګرامی وچهارآسیاب وقسمت اعظم شهر کهنه از نور برق مستفید خواهند شد .

په فلپین کي ...

امریکایانو ته سرونه غوڅ کاندي . د ابو سیاف ډلی دوه هفتې پخوا دمی په ۲۷ له تفریحی ساحل نه شل تنه برمته کړل چې وروسته بیا څینې برمته شوی کسان له سری تښتوونکو څخه و تښتیدل .

فلسطینیان ...

کنیټ پرون د سولی د خبرو د بیا پیل کیدو لپاره د واړو خواوو ته لیکلی تجویزونه ورکړی دی . کنیټ به لویدیزه غاړه کې د یهودو او فلسطینیانو د امنیتی چارو له رئیسانو سره کتلی دی دابه دی څو تیرو هفتو کې دهغوی ترمنځ لومړنی خبری دی چې پیل شوی . نن په لویدیزه غاړه کې صهیونستی قواوو د فلسطینیانو هغه مظاهره چیان په شا وتمبول چې د فلسطینیانو سیمو ته یې د غځیدلو لارو د بندولو له کبله د احتجاج په توګه مظاهره کوله . تر اوسه پوری دڅا دمرګ ژوبلې ریوټ نه دی ورکړشوی .

په یهودو کې د یوه سر تیری د انتحاری بم چاودنې او دیاسرعرفات د اوربند له غوښتنې نه وروسته دمنځنی ختیځ په شخړو کې کمی راغلی دی

وزارا، دفاع ...

این مخالفت در جریان مذاکرت که ایګورایو انو ف وزیر دفاع روسیه با کدانیل را مس فیلد همتا ی امریکا ئی اش انجام داده تصریح ګردیده است . وزیر دفاع روسیه قبلاً نیز ګفته است که کشور ش با هرګونه تخطی وعدول از موافقتنامه امضا شده میان روسیه وایالات متحده امریکا روی راکتهای بالستیك سال ۱۹۹۷ شدیداً مخالفت می ورزه .

په جاپان کی ...

زیانی کړی . دا غمیزه د جمعې په ورځ هغه وخت شروع شوه چې یو سړی چاړه په لاس د یوه ښوونځي تولګی ته ننووت او په چړې یې دماشومانو وهل شروع کړل دا له ۱۹۹۵ کال نه را په دیخوا چې د توکیو تر ځمکې لاندې اورګاډي په مترو کې د زهرجن ګاز په حمله کې ۱۲ کسه وژل شوی ؤ تر ټولو بد قتل عام . پولیس وایی حمله کوونکی اوس ۳۷ کلن او بندی دی او د عقلی عصبی ناروغی سابقه هم لری .

درشفاخانه رابعه بلخي ...

وشامل سرویسهای نسایی وولادی ، داخله ، جراحی ، ګوش،ګلو وبینی ، جلدی ، عقلی وعصبی وبخشهای دواخانه لابراتوار عمومی وفزیوتراپی میباشد که در سرویس نسایی وولادی یکصدبستر درخدمت مریضان قرار داشته و روزانه به تعداد پانزده مریض بستر واضافه از هشتاد مریض به صورت سراپا معاینه وتداوی میګردد دراین سرویس روزانه بیش از پنج عملیات کبیره وبیشترا ز ده عملیات صغیره اجرا میشود سرویس داخله دارای ۷۰ بستر بوده روزانه ده مریض بستر ویکصد وپنجاه مریض بصورت سراپا معاینه وتداوی میګردند . همچنان درسرویس جراحی پنجاه بستر درخدمت مریضان قرارد اشته که روزانه چهار عملیات کبیره و ۳ عملیات صغیره اجرا میشود و اضافه از سی تن مریض روزانه تداوی سراپا میګردد.همچنان درسرویس ګوش ،ګلو وبینی ۲۰ بستر درخدمت خواهران قرار دارد و دکتوران وپرسونل این سرویس روزانه ده عملیات کبیره وصغیره را اجرا میکنند که تعداد مریضان این سرویس روزانه بیش از چهل تن را تشکیل میدهد .

شایان ذکراست که بخش سرویس جلدی وزهری شفاخانه رابعه بلخی از یکسال بدینسو به فعالیت آغاز نموده که به شمول شف سرویس دارای سه نفر دکتور، پنج تن پرسونل طبی (نرس) میباشد . این سرویس دارای بیست وپنج بستر بوده وروزانه به تعداد بیش از پنجاه مریض معاینه وتداوی میګردد باید خاطر نشان ساخت که ادویه برای مریضان دراین بخش از طرف شفاخانه بطور رایګان اجر امیګردد. این سرویس دارای عملیات خانه جدا ګانه میباشد .محترمه ستانکزی درمورد تعداد پرسونل این شفاخانه ګفت :

شفاخانه رابعه بلخی دارای (٦٥) تن طبیب دربخشهای مختلف ۷٥تن نرس ٤ تن فارمسیست ، ۱۲ تن تکنالوژلیست و لابرانت شش تن رادیو لوګ وپنج تن انستیزی لوګ و ۷٥ تن پرسونل خدماتی بوده که پرسونل شفاخانه باایمان راسخ به خداوند «ج» وخدمت به هموطنان مستضعف خویش شب وروز درخدمت مریضان قرارداشته که پاداش این همه خدمات تقدیر نامه درجه اول خدمت استګ سال ګذشته از طرف مقام رهبری وزارت صحت عامه شفاخانه رابعه بلخی به آن مفتخر ګردیده است .

محترمه طبیبه ستانکزی در موردکمك های موسسات خارجی چنین ګفت شفاخانه رابعه بلخی از طرف هیچ کدام ارګا ن ویا موسسه خارجی تمویل مستقیم نمی شود اما کمك های سازمان صحی جهان (WHO) وزاکوملا ویل راکه از طریق ریاست جمعیت هلال احمر افغانی کمك ګردیده نادیده نګرفته وموسسه آلمانی امداد اطفال یتیم درقسمت وسایل طبی وادویه کمك های بی شایبه ای انجام داده است همچنان از کمك وهمکاری آقای جارج تبعه المانی که درقسمت ساختمان وسایر قسمت های تخنیکی شفاخانه انجام داده اند اظهار سپاس میکنیم . همچنان دراین او اخر کمك اداره محترم یونسف وهبیتات را به دیده قدر نګریسته وبه کمك های بعدی شان امیدوارمیباشیم.

محترمه پوهنیار ظفر ستانکزی دراخیر اظهار داشت پرسونل شفاخانه رابعه بلخی همان ګونه که شب وروز بدون احساس خستګی درخدمت خواهران مریض قرار دارد از هموطنان عزیز خصوصاً از مریضداران تقاضا دارند تا درنظافت وبهبود امور یومیه شفاخانه همکارمیداره درنظم ودسپلین شفاخانه ما را یاری رسانند .

به خاطر تامین ...

سازمان جاسوسی امریکا که قبلاً وارد شرقمیانه ګردید دیروز جهت انجام مذاکرات با مقامات مصر وارد قاهره شده است وی قبل از ین مسافرت با مقامات فلسطین درنوار غزه روی آغاز مجدد مذاکرات صلح شرقمیانه تبادل نظر نموده است .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بګذارید.